كله چې تاسو اذان واورئ، نو تاسو هم د موذن په څېر هغه څه ووايئ چې هغه يې وايي

له ابو سعيد الخدرى رضى الله عنه څخه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي: "كله چې تاسو اذان واورئ، نو تاسو هم د موذن په څېر هغه څه ووايئ چې هغه يې وايي".
[صحيح دى] [متفق عليه دى]

رسول الله صلى الله عليه وسلم موذن ته په ځواب وركولو تاكيد كوي كله چې ورځخه د اذان الفاظ واورېدل شي، داسې چې مونږ هم هغه څه ووايو چې هغه يې وايي، جمله په جمله، كله چې هغه تكبير وايي، مونږ ورپسې تكبير ووايو، او كله چې شهادتين ووايي، مونږ هم ورپسې دواړه شهادتين ووايو، لدې څخه د (حي على الصلاة، او : حي على الفلاح) الفاظ مستثنا دي، ځكه د هغوي پسې : لا حول و لا قوة إلا بالله، ويېل كيږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3013

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee